


# د خولۍ د ماسک څخه څنګه کار اخلئ؟

## کله؟

د خولۍ د ماسک د کارولو په مرسته تاسو د هغو وړو مرطوبو څاڅکي د خپریدلو څخه چې د توخی او خبرو کولو په مهال خپرېږی، مخنیوی کوئ. په دې توګه تاسو د نورو حفاظت کوئ او هغه توکی چې په چاپیریال کی دی نه ککړ کوئ.

- د نږدې اړیکې په مهال کله چې تاسو نه شئ کولای چې 1,5 متره واټن وساتئ.
- د ۱۲ کلنی څخه په عامه ترانسپور کښې جبری دی.
- په ګنه ګونه ځاینو کښې مشوره ورکول کیږی.
- په سوپرمارکیت او نورو دوکانونو کښې مشوره ورکول کیږی.
- د اغېزمنو کسانو سره د اړیکو په مهال. آیا تاسو خپله د خطر وړ ناروغ یاستئ؟ که چېری داسی وی بیا هر کله چې د بهر ته ځئ وکاروئ.

## پرېمنځل او ساتل

د خپل د خولۍ ماسک مخکې له کارولو څخه پرېمنځئ. هر ورځ یی ضد عفونی کړئ. د هر ځل ډېر کارولو څخه فرضاً کله چې تاسو ۴ ساعته باید خبری وکړئ.

- د خولۍ ماسک ۳۰ دقیقې په حد اقل ۶۰ درجو کې پرېمنځئ یا د لنډې مودې لپاره په دېګی وایشوئ. د هغه دېګی څخه د بل هیڅ کار لپاره مه کاروئ.
- د خولۍ ماسک په لوړه درجه حرارت اتو کړئ.
- د خولۍ ماسک ښه وچ کړئ، هېڅ کله یې لوند مه کاروئ. په یو سر تړلی د تکې کڅوړې کښې وساتئ او هغې سره یې یو ځای پرېمنځئ.
- د خولۍ ماسک په لاندنی برخې کې یوه برخه د فلتر لپاره ده (کافی فلتر، د آشپزخانې کاغذ...) دې ته پام وکړئ چې د فلتر وزن زیات ونه وسی، ځکه چې هغه مهال سا ویستل سخته کیږی.

- تر هغه اندازې پوری چه امکان لری د خولۍ ماسک ډېر مه اېږدی او لری کوئ. ترجیح ورکول کیږی چې هر کله چې د کور څخه بهر وځئ ماسک وکاروئ.
- کله چې د خولۍ ماسک د لنډې مودې لپاره لری کوئ (فرضاً د اوبو د څښلو په مهال) لازمه ده چې په یو مناسبه ځای کې کښېدئ ترڅو وروسته وشئ کولای هغه په آسانه توګه پاک کړئ یا په داسې یوې کڅوړې کښې چې د هوا جریان ولری کښېدئ.
- د خولۍ ماسک په د یخچال په یخ خای کښې مه کیږدئ. یخ ویروس له منځه نه شی وړلی. کیدای شی چې ماسک ستاسو خوړه ککړ کړی.

## اېر نه کړئ

## د خولې ماسک کارول یوازې هغه مهال ګټه لری چې تاسو نورې لاربښودنې ته درناوی وکړئ.

- د یو بل څخه 1,5 متره واټن وساتئ
- خپل لاسونه په مکرره توګه صابون او اوبو سره پرېمنځئ
- په خپل مخ باندی لاس مه وهئ
- ټوخی او برنجېدل په مټ کښې وکړئ
- خپلې ټولنیزې اړیکې محدوده کړئ
- که ناروغ ووسئ په کور کښې پاتی شئ


# څنګه یې وتړئ؟



1. مخکې له هغې څخه چې په ماسک باندی لاس ووهئ خپل لاسونه اوبو او صابون سره ښه پرېمنځئ.



2. د ماسک مزی په لاس ونیسئ او د خپل د سر شاته یی غوټه کړئ.



3. د ماسک په منځ کښې ګوته مه وهئ.



4. کوښښ وکړئ چې ماسک ستاسو په مخ ډېر ښه کښېنی. خپله پزه، خوله او زنه ورسره پټه کړئ.

# ماسک څنګه لری کېږی؟



1. مخکې له هغې څخه چې په ماسک لری کړئ خپل لاسونه ښه پرېمنځئ.



2. یواځې د ماسک په مزو باندی لاس ووهئ چې لری یی کړئ.



3. په خپل مخ باندی لاس مه وهئ.



4. کله چې کور ته ورسیدلئ د خولې ماسک په خیرنو کالیو سره واچوئ. هغه مهال بیا خپل لاسونه پرېمنځئ.

V.U.: Paul Van Miert - Campus Blairon 200 - 2300 Turnhout